بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف لـه دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

سه شنبه ۳۰ سلواغه ۱۴۰۳ هـ ش    ۱۹ شعبان المعظم ۱۴۴۶ هـ ق    ۱۸ فبروری ۲۰۲۵ م    مسلسله شمېره (۹۱)

## د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس غزني ولایت ته د سفر پر مهال د (۳) جزائي دوسیو په اړه وروستۍ څېړنې بشپړې کړې

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) چې د یاد دیوان مفتي صاحبانو (مفتي عبدالحی شاکر او مفتي فضل الرحمن قاسمي) یې ملتیا کوله، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په ځانګړې هدایت د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۱۲مه نېټه د یو شمېر جزائي دوسیو په اړه د وروستیو څېړنو بشپړولو په موخه غزني ولایت ته سفر وکړ.

د جزا دیوان عمومي رئیس او ورسره مل پلاوي د دغه سفر پر مهال د غزني مرافعه محکمې له رئیس او اړوند نورو محاکمو له قضائي غړو سره وکتل؛ په دې لیدنه کې د (۳) جزائي دوسیو په تړاو د وروستیو څېړنو بشپړولو په موخه تفصیلي خبرې وشوې.

دغه راز محترم مفتي عتیق الله (درویش) او ورسره مل پلاوي د یادو دوسیو اړوند جانبینو سره په جلا جلا ډول وکتل او له دوی یې د اړوند مواردو په اړه بشپړ تحقیقات وکړل.

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د دغه سفر پر مهال د غزني ولایت د محاکمو قضائي مسؤولینو ته هدایت وکړ چې د مراجعینو دوسیې د شرعي احکامو په رڼا کې په ټاکلي وخت حل او فصل کړي.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د جزا دیوان رئیس له دې مخکې هم د جزائي دوسیو په اړه د وروستیو څېړنو بشپړولو په موخه د هېواد ډېرو ولایتونو ته سفرونه کړي دي.




## د سترې محکمې د ظرفیت لوړونې او اجراآتو ارزونې ریاست لخوا د کابل ولایت مرافعه محکمې د وثایقو او اسنادو د ثبت شپږو آمریتونو کارکوونکو ته (دوه)، څلور ورځني سیمینارونه وړاندې شول

د سترې محکمې د ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزونې ریاست لخوا د سترې محکمې عالي مقام په هدایت د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند وثایقو او اسنادو د ثبت شپږو حوزو د آمریتونو کارکوونکو ته د اداري اجراآتو زده کړې په موخه (دوه)، څلور ورځني سیمینارونه وړاندې شول.

په یادو سیمینارونو کې چې د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۲مه نېټه پیل او د همدې میاشتې تر ۱۲مې نېټې یې دوام درلود، د مسلکي استادانو لخوا ګډونوالو ته د وثایقو د ترتیب او طی مراحلو، د پلان جوړونې اساساتو، اداري مراسلاتو، کاري ارتباطاتو او راپور لیکنې اړوند ګټور او لازم موارد تدریس شول.

دغه راز د سیمینارونو په پای کې ټول ګډونوال د لومړنۍ او وروستۍ ازموینې په توګه و ارزول شول، ترڅو د پلي شوو سیمینارونو د اغېز کچه په ډاګه شي، چې په پایله کې یې اغېز مثبت او د ګډونوالو په زده کړه کې په لوړه کچه بدلون راغلی و.

د یادو سیمینارونو په اختتامیه غونډه کې د سترې محکمې د استخدام او سوانحو رئیس محترم مفتي عبدالوارث (سعید) د علم د حاصلولو او کاري ظرفیت لوړونې په تړاو او د ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزونې رئیس محترم حافظ نصیر احمد (صیاد) د وثایقو د ترتیب او طی مراحلو، په اداري چارو کې د دقت، سرعت او مؤثریت اړوند ګډونوالو ته هر اړخیزې خبرې وکړې او د ګډونوالو نظریات او وړاندیزونه یې واورېدل.

د یادونې وړ چې په یادو سیمینارونو کې شاوخوا (۶۰) اداري کارکوونکو برخه اخیستې وه.

د سیمینارونو اختتامیه غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای پنج متهم در ولایت تخار تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی ینگی قلعه ولایت تخار به شمول یک زن بالای پنج تن که متهم بر زنا، لواطت و سرقت بودند؛ به تاریخ ۱۴/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق در چمن ورزشی شهرداری محکمهٔ مذکور حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمه ابتدائیه متهمین مذکور را به یک ـ یک سال و شش الی هفت ـ هفت ماه حبس تنفیذی و ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق گردید.




## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۲۴۷) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې له ( ۱۶/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۲۴۷) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱ - د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۱۳۳) نکاح خطونه، (۱۶) زوجیت خطونه او (۵۲) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲ - د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۰۱) نکاح خطونه، (۱۱) زوجیت خطونه او (۹۸) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په دوو اونیو کې (۶۴) نکاح خطونه، (۳) قبالې، (۹) زوجیت خطونه او (۴۴) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۴۱) نکاح خطونه، (۹) قبالې، (۷) زوجیت خطونه او (۳۵) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۲۶) نکاح خطونه، (۹) قبالې، (۲۷) زوجیت خطونه او (۸۶) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۱۷) نکاح خطونه، (۴) قبالې، (۱۷) زوجیت خطونه او (۳۸) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**په نبوي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:**

**۸- عقبه بن عامر ﷺ:**

**دوهمه برخه**

ابو عشانه له ده څخه روایت کوي، چې وویل: کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړ، ما پسونه څرول، نو هغه مې پرېښودل او ده ته ورغلم، نو ورته ومې ویل: اې د الله رسولهﷺ! زما بیعت قبلوې؟ هغه ورته وویل:« ته څوک یې؟»، ما هغه خبر کړ، نو رسول الله ﷺ وویل:«نو تاته کوم بیعت خوند درکوي، د صحرایانو بیعت او که د هجرت بیعت؟» ما ورته وویل: د هجرت بیعت، نو بیا یې بیعت راسره وکړ.

او دی د معاویه بن سفیان ﷺ له ملګرو څخه و، چې د مصر والي یې وټاکی، خو بېرته یې معزول کړ او دی همدلته اوسېدلو، چې په ۵۸ هجري کال کې همدلته وفات شو او ده به ډېره په نکریزو وهله.

اخذلیک: تتمة النظام، ۵۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحیم راشد

## جلسهٔ اداری دواوین تحت رهبری رئیس ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه برگزار گردید

جلسه اداری تحت رهبری محترم شیخ القران والحدیث محمد شریف (حقانی) رئیس ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه و با حضورداشت رؤسای دواوین پنجگانهٔ این ریاست به تاریخ ۱۴۴٦/۸/۱۱ هـ ق در مقر ریاست عالی تمیز مرکز دایر گردید.
جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس محترم شیخ القران والحدیث محمد شریف (حقانی) رئیس ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه در مورد تطبیق احکام شریعت اسلامی، اصول و لوایح امارت اسلامی، تسریع روند رسیدگی به دوسیه جات مراجعین و برخی موضوعات دیگر مفصلاً صحبت کرد.
رئیس ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه برگزاری چنین جلسات را بخاطر جستجوی راه های تسریع روند رسیدگی به دوسیه‌جات مراجعین، شریک ساختن معلومات از طرف مسؤولین محترم دواوین پنج‌گانهٔ ریاست عالی تمیز مرکز در رابطه به اجراآت گذشته و فعلی و بالآخره تقویت روند رسیدگی به دوسیه های وارده مهم خواند.
همچنان رؤسای محترم دواوین پنج‌گانهٔ ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه و حاضرین دیگر به نوبت خود در رابطه به موضوعات مختلف شامل اجندا سخنرانی نموده و گفتند، تلاش ما این است که در روشنایی احکام شریعت محمدی و اصول محاکم امارت اسلامی افغانستان تمام موضوعات مراجعین را در وقت معین آن حل و فصل نمائیم؛ تا حق را به حقدارش بسپاریم.
بعداً مطابق آجندای مذکور بحث صورت گرفت و به اساس موضوعات تصویب شده دواوین این ریاست را هدایت داده شد تا اجراآت خویش را موافق آن عیار نمایند.
جلسه با دعاء خیر خاتمه یافت.

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی نجراب ولایت کاپیسا به شمول یک زن بالای سه تن به جرم فرار از منزل و فرار دادن از منزل، به تاریخ ۶/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.
محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به هفت ـ هفت ماه حبس تنفیذی و ۳۹ ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین تطبیق شد.

## دکابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې لخوا یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون جزا دېوان د (با) جز د پرېکړې له مخې یو کس ته چې پر زنا متهم و؛ په ۸/۶ /۱۴۴۶ هـ ق نېټه د محکمې په انګړ کې تعزیري سزا ورکړل شوه.
د جزا دېوان یاد متهم په یو کال او شپږو میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شو.

## په غزني ولایت کې یوې مجرمې ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت مقر ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یوې ښځې ته د اخلاقي فساد په جرم؛ په ۱۰/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.
ابتدائیه محکمې یاده مجرمه پر یو کال تنفیذي بند او ۲۰ دُرو تعزیري سزا محکومه کړې وه؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمې تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت کندز تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی قلعهٔ ذال ولایت کندز بالای دو تن به جرم لت و کوب؛ به تاریخ ۱۱/ ۸/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.
محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به هشت ـ هشت ماه حبس تنفیذی و ۱۵ـ ۱۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بوده‌اند.

## مسؤولین محاکم ولایت بدخشان برای وکلای مدافع آن ولایت سیمینار آموزشی را راه اندازی نمودند.

سیمینار آموزشی تحت ریاست محترم مفتی نعمت‌الله (احمدی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بدخشان؛ به همکاری قاری عبدالکریم (حنفی) رئیس دیوان امنیت عامهٔ محکمهٔ مرافعه و مولوی صدیق احمد (قانت) سرپرست دیوان مدنی مرافعه جهت بلند بردن سطح آگاهی وکلای مدافع پیرامون اجراآت محاکم به تاریخ ۳ /۸ /۱۴۴۶ هـ ق برای تمام وکلای مدافع آن ولایت، دایر گردید.
سیمینار با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس رئیس محکمهٔ شهری راجع به تقوی و پرهیز گاری در پرتو احکام شریعت صحبت مفصل نمود.
بعداً مطابق آجنداء ذیل که از قبل تهیه و ترتیب شده بود بالنوبه صحبت و تبادل نظر صورت گرفت:
۱ـ حسن ظن در میان وکلای مدافع و قضات باید موجود باشد، این ریسمان محکم را تا حد توان خود رها نکرده و از این همبستگی، اتحاد و اتفاق بوجود می‌آید.
۲ـ وکلای محترم در قضایای که شما بحیث مدعی بالوکاله عندالمحکمه قرار می‌گیرید، هیچگاه از حق و عدالت عدول نکنید، آنچه که در پرتو احکام شریعت اسلام و نظریات فقهاء معتبر اسلام می‌باشد، صورت دعوی، اعتراض و دفع اعتراض خویش را در محور شریعت تحریر داشته به محکمهٔ مربوطه جهت تعقیب و پیشبرد دعوی تقدیم نماید؛ زیرا پیروی از حق وظیفهٔ انسانی و ایمانی ما و شما می‌باشد، بنابرین ما مکلف هستیم که از این روزنه برای ملت و جامعه خود توقعاتی که در چوکات دین مبین اسلام باشد دریغ نورزیده، تا قناعت آنها را موافق اصول و قانون مرفوع نمائیم.
۳ـ در صورتی که وکلای مدافع از طرف مؤکلین شان عریضه را تقدیم محکمه می‌نمایند، موضوع دعوی و تاریخ عریضه، باید کاملاً در متن عریضه تحریر و بطور واضح درج شود، و از حاشیه روی و سخن های بی مورد جداً جلوگیری بعمل آید و بطور فشرده صورت دعوی خویش را ترتیب نموده به محکمهٔ مربوطه بدون تعلل تقدیم نمایند.
۴ـ در مورد صورت دعوی، شرایط عمومی و خصوصی هر دعوی درج شود، در صورت عدم تکمیل شرایط صحت دعوی، حتماً صورت دعوی مسترد گردیده و به صحت آن حکم داده میشود بناءً از اول، شرایط هر نوع دعوی بطور دقیق درج شود.
۵ـ عنوان و تفصیلات آن باهم دیگر همخوانی داشته باشد،بعضی اوقات ملاحظه ئی که صورت میگیرد دیده میشود موضوع در عنوان یک چیز و در تفصیلات آن چیزی دیگری است و از الفاظ های رکیک در اعتراض و دفاعیه، علیه مدعی علیه و قضات خودداری صورت گیرد.
۶ـ از تفصیلات بی مورد در صورت دعوی و دفاعیه اجتناب نموده و نکات اساسی درج شود، به استثناء مناسخهٔ و کثرت مدعی بها که تفصیلات بیشتری را ایجاب می‌کند و از تأخیر در جواب استعلام ها، ترتیب صورت دعوی، دفاعیه و اعتراضیه و از تقدیم آنها به محکمه جلوگیری نموده و باعث ضیاع وقت محکمه و دیگر مراجعین محترم نشوند.
۷ـ بعضی از وکلای محترم در ترتیب صورت دعوی، اعتراض و دفع اعتراض از مردم غریب و بیچاره پول هنگفت بدست میارند، برای وکلای مدافع هدایت لازم داده شد، که بعد از این حجم دعوی را در نظر گرفته از مؤکلین خود پول بسیار دریافت ننمایند، در این مورد محترم شیخ عبدالحکیم (حقانی) صاحب قاضی القضات و رئیس ستره محکمه در سفرش که قبلاً داشتند توصیه شان همین بود، که بالای مردم مظلوم و بیچاره ترحم صورت گیرد، زیرا مردم ما مردم رنج دیده اند.
۸ـ بعضی از وکلا در یک وقت چندین قضایا را به وکالت میگیرند، همزمان به تعقیب دعاوی نسبتی شان رسیدگی کرده نمی توانند این کار باعث تراکم کاری و ضیاع وقت محکم و مراجعین دیگر میشود، در این باره توجه صورت گیرد.
عرایض که جهت مرافعه طلبی میباشند، عنوانی ریاست محکمهٔ مرافعه تحریر و از آن طریق بمرجع مربوطه اش رجعت داده خواهد شد.
این سیمینار بعد از هدایات و رهنمائی های لازم به دعا خبر خاتمه یافت.

## د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند څلورکسیز پلاوي د مرکزي زون د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو له چارو لیدنه او څارنه وکړه

د قضائیه قوې د محاکمو امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند څلورکسیز پلاوي د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو عمومي قوماندان حافظ حکمت الله (ذهین) په مشرۍ د روان۱۴۴۶هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۶مـه نېټه د مرکزي زون د نظامي محاکمو امنیتي او اجرائیوي قطعاتو له چارو لیدنه او څارنه وکړه.
یاد پلاوي په دغه لیدنه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو، د ریاست الوزراء محترم مقام او سترې محکمې عالي مقام د هدایاتو د تطبیق، د مجاهدینو له تعیناتو، اداري او امنیتي چارو، د تلاشۍ له بهیر، اکمال او توزېع، د پرسونل له حاضرۍ، ۲۴ ساعته نوکریوالۍ د تطبیق، د پیره دارۍ له ځایونو او نورو اړوند مواردو څخه کنټرول او څارنه وکړه.
دغه راز یاد پلاوي مجاهدینو ته د صورت او سیرت د اصلاح، پر نبوي سنتو د ځان برابرولو، په جماعت سره د لمانځه اداکولو او خپلو دندو ته د پاملرنې په برخه کې د لازمو لارښوونو او سپارښتنو تر څنګ دوی د اسلامي نظام استحکام او په همدې لار کې د هر ډول سترېیا او خوارۍ زغملو ته وهڅول او په راتلونکي کې د لا ښه خدمت کولو په موخه ځینې مشورې ورکړل شوې.

## محاکم کندز طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۹۰۱) دوسیه، به تعداد (۶۴۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۸۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم ولایت کندز گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۴۰۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۳) دوسیه فیصله شده، (۴۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۸۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم ولایت کندز گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۱۴۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۶) دوسیه فیصله شده، (۷۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۶۴۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د ننګرهار او دايکنډي ولايتونو محاکمو په دوو اونيو کې (۴۹۰) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۵۰) وثيقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار او دايکنډي ولايتونو مرافعه محاکمو، وثايقو، ښاري ابتدائيه او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په دوو اونيو کې له ( ۱۶/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۹۰) دوسيو ته رسېدنه کړې او (۲۵۰) وثيقې يې هم اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار او دايکنډي ولايتونو محاکمو ته په دوو اونيو کې (۲۹۴) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۰) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۵) دوسيې فيصله شوې، (۲۷) دوسيې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار او دايکنډي ولايتونو محاکمو ته په دوو اونيو کې (۱۸۶) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۲) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۱) دوسيې فيصله شوې،(۲۹) دوسيې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

په تجارتي برخه کې:

د ننګرهار او دايکنډي ولايتونو محاکمو ته په دوو اونيو کې (۱۱) تجارتي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۲) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۸) دوسيې فيصله شوې، (۱۶) دوسيې مکتوبي اجرا شوې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د ننګرهار او دايکنډي ولايتونو محاکمو په دوو اونيو کې (۲۵۰) بېلا، بېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د بلخ ولايت محاکمو په دوو اونيو کې (۵۷۷) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۲) وثيقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولايت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائيه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په دوو اونيو کې له (۲۴/ ۷/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې څخه تر ۷ /۸ / ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۵۷۷) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۲) وثيقې هم اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو ته په دوو اونيو کې (۳۸۰) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۴۹) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۴) دوسيې فيصله شوې، (۴۷) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو ته په دوو اونيو کې (۱۶۸) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۵) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۷) دوسيې فيصله شوې، (۱۵) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د بلخ ولايت محاکمو په دوو اونيو کې (۲۲۲) بېلا بېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولايات غزنی و نيمروز طی دو هفته علاوه بر رسيدگی به (۳۵۳) دوسيه، به تعداد (۲۸۴) قطعه وثايقرا نيز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولايات غزنی و نيمروز، دواوين محاکم مرافعه، وثايق، ابتدائيهٔ شهری و ابتدائيهٔ ولسوالی‌ها از تاريخ ( ۱۶/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثايق به شرح ذيل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۲۷۹) دوسيهٔ حقوقی وارد محاکم ولايات غزنی و نيمروز گرديده، در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۵) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۷۸) دوسيه فيصله شده، (۴۵) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۱۷۳) دوسيهٔ جزائی وارد محاکم ولايات غزنی و نيمروز گرديده، در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۴) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۴۶) دوسيه فيصله شده، (۵) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان دو هفته در محاکم ولايات غزنی و نيمروز به تعداد (۲۸۶) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده است.

## د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونيو کې (۹۲۳) دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونيو کې (له ۱۶/ ۷/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې) پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۹۲۳) دوسيو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**۱. په جزائي برخه کې:**

د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۴۶۹) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۹) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱۱) دوسيې فيصله شوې، (۴۸) دوسيې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۲۱۸) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۸) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۱) دوسيې فيصله شوې، (۴۱) دوسيې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۲۸۲) تجارتي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵۶) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۴) دوسيې فيصله شوې، (۴۵) دوسيې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولايت هرات طی يک ماه علاوه بر رسيدگی به (۷۶۱) دوسيه، به تعداد (۷۱۴) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولايت هرات، دواوين محکمهٔ مرافعه، وثايق، محکمهٔ ابتدائيهٔ شهری و محاکم ابتدائيهٔ ولسوالی‌ها از تاريخ ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثايق به شرح ذيل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۲۲۶) دوسيهٔ حقوقی وارد محاکم گرديده، در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۶) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسيه فيصله شده، (۱۰) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۴۰۸) دوسيهٔ جزائی وارد محاکم گرديده، در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۰) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۲۴۵) دوسيه فيصله شده، (۱۴) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۱۹۷) دوسيهٔ تجارتی وارد محاکم گرديده، در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۵) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسيه فيصله شده، (۳۷) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت هرات به تعداد (۷۱۴) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده‌است.

## د کندهار ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۶۴۲) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۶۱) وثيقې هم اجرا کړې دي

د کندهار ولايت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائيه محکمې او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (له ۱/ ۷/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۲۹ /۷ / ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۶۴۲) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۶۱) وثيقې هم اجرا کړې دي، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۳۴۰) حقوقي دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۱۲۴) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷۵) دوسيې فيصله شوې، (۴۱) دوسيې مکتوبي مستردې شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۳۰۲) جزائي دوسيې ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۱۴۰) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۱) دوسيې فيصله شوې، (۳۱) دوسيې مکتوبي مستردې شوې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د کندهار ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۸۶۱) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د ميدان وردګ ولايت ښاري ابتدائيه محکمې رئيس د ياد ولايت له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د ميدان وردګ ولايت ښاري ابتدائيه محکمې رئيس محترم مولوي سيد رحيم الله (حکمت)؛ د جزا دېوان رئيس مولوي عبدالبصير (اخندزاده) او د عامه امنين دېوان رئيس مولوي عبدالبصير (عمري) په ملتيا، په ۱۴۴۶/۸/۵ هـ ق نېټه د ياد ولايت له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه.

د ليدنې په پيل کې د ښاري محکمې رئيس د ياد محبس له آمرينو سره وکتل او د زندانيانو او متهمينو د ستونزو د حل په اړه يې تفصيلي خبرې ورسره وکړې.

د ليدنې په پای کې د ښاري محکمې رئيس د بنديانو ورپسې د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس د اړوند قضائي مسؤولينو څخه د بنديانو په تړاو هر اړخيز معلومات وغوښتل.

ستونزې او وړانديزونه واورېدل او مسؤولينو ته يې د بنديانو د روزنې او اصلاح په اړه اړينې سپارښتنې وکړې.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کابل، زابل او فاریاب ولایتونو د حقوقو ادارو په یوه میاشت کې (۵۲۰۹) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسیدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د کابل د حقوقو ریاست، د زابل او فاریاب ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱۹/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۹/ ۷/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۵۲۰۹) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د کابل د حقوقو ریاست، زابل او فاریاب ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۳۵۳۲) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۴۹۷) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۹۳۸) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۳۵) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۹۶۲) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د کابل حقوقو ریاست، زابل او فاریاب ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۱۶۷۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۳۱) دوسیې تطبیق شوې، (۴۷۴) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۴۵۲) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۶۲۰) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر اجراآتو لاندې دي.

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د ۱۴۴٦ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴٦ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په جریان کې لاندې اجراآت ترسره کړي دي:

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند د قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴٦ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په جریان کې د (۱۴۸) بېلابېلو موضوعاتو په اړه تدقیقي نظریات ورکړي؛ چې په دې کې (۸) د جزائي استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۵) د تجارتي استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۵) د مدني استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۱۹) د وثیقو استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۳) د عارضینو د عرایضو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۵۹) د قضائي تفتیش د راپورونو په اړه تدقیقي نظریات، (۱۷) د متفرقه استهداآتو پر وړاندې تدقیقي نظریات، (۲۳) مکتوبي موضوعات او (۱) مستردي موضوع شامل دي.

Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه

## په ارزګان ولایت کې (۹) متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د ارزګان ولایت د چهارچینو ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې نهو کسانو ته چې پر غلا متهم وو؛ په ۷/۸/۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو کسانو له ډلې آته تنه په ۲-۲ کاله تنفیذي بند او ۳۹-۳۹ دُرو تعزیري سزا او یو کس په یو کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د لوګر ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه






د سترې محکمې د محترم عالي مقام په هدایت د محترم مولوي رحمن الدین (ایشان) په مشرۍ د قضائي پلټنې یوه پلاوي چې مولوي عبدالجبار (شهاب) او مولوي سیف الدین (ذاکر) په کې د غړیو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ۲۹ مه نېټه د لوګر ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د لوګر ولایت د مرافعه محکمې له محترم رئیس سره وکتل؛ وروسته یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد زندان اړوند د ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت، شکایتونه، ستونزې یې له ځان سره ولیکل او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت د (۶) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، د ښاري ابتدائیه او مرافعه محاکمو اړوند دیوانونو، د وثایقو آمریت، حقوقو آمریت او اختصاصي محکمې څخه په جلا جلا ډول لیدنه وکړه.

دغه پلاوي د ځارنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتیش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره ولیکل او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د لوګر ولایت د مرافعه او ښاري محاکمو له رئیسانو سره تفاهمي ناسته وکړه او ځینې ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

دغه پلاوي د ځارنې او لیدنې په دوام د یاد ولایت د ولسوالیو له مسؤلینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتیش د ځارنې او پلټنې پلاوي یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۶ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۱۳ مه نېټه پای ته ورسېد.

## د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه او اختصاصي محاکمو په یوه میاشت کې (۲۷۵) دوسیو ته رسیدنه کړې ده

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه او اختصاصي محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ /۷/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۹ /۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۲۷۵) دوسیو ته رسېدنه کړې؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

۱- د نشه‌یي توکو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې ته په یوه میاشت کې (۲۶۳) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۲۰۱) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

۲- اختصاصي محکمې ته په یوه میاشت کې (۹۲) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر ځارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳